

# محمد صلى الله عليه وسلم

# خاتم النبيين

## (باللغة البشتو)

المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات
بالزلفي

شبكة الألوكة
www.alukah.net

www.alukah.net
شبكة الألوكة

## محمد ﷺ خاتم النبيين – اللغة البشتو

# د نبی کریم ﷺ د ژوند مختصر حالات

المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد
وتوعية الجاليات بالزلفي

شبكة الألوكة - قسم الكتب

www.alukah.net
شبكة الألوكة

# محمد ﷺ خاتم النبيين

أعده وترجمه للغة البشتو
المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالزلفي
الطبعة الأولى: ١٤٣٩/٨هـ

ح المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي
فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر
المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي
محمد ﷺ خاتم النبيين - الزلفي، ١٤٣٩هـ
ردمك: ٥-١٤-٨٢٤٣-٦٠٣-٩٧٨
(النص باللغة البشتو)
١- محمد ﷺ خاتم النبيين ٢- السيرة النبية أ- العنوان
ديوي ٢٣٩ ١٤٣٩/٦٣٦٠

رقم الايداع: ١٤٣٩/٦٣٦٠
ردمك: ٥-١٤-٨٢٤٣-٦٠٣-٩٧٨

شبكة الألوكة - قسم الكتب

www.alukah.net
شبكة الألوكة



## د خوږ نبي كريم ﷺ د ژوند مختصر حالات

### د نبوت نه مخکښې د عربو حالت :

پدے دور کښې د عربو مشهور دين بت پرستي وه ځکه چه عربو دين ابراهيمي پريښوستے وو او بت پرستئ کښې اخته شوی وو، دے دور ته د جاهليت دور وئيلے شي، د الله تعالی نه علاوه چه د کومو بتانو عبادت کيدو د هغے نومونه دادی :لات، عزی، مناة، او هُبل، د بعضو عربو دين يهوديت، عيسائيت او مجوسيت هم وو، ډير لږ خلق په ملت ابراهيمي باندے قائم وو.

### د ژوند د تيرولو اسباب :

اکثر به خانه بدوش وو صحراؤنو کښې اوسيدل او عام ښاروی ساتل او د هغوی څرول ئے کسب وو او کلو ښارونو کښې اوسيدونکی خلق زميدارئ او تجارت کښې مشغوله وو، د اسلام د راتللو نه مخکښې مکه مکرمه د جزيره عرب دپاره دتجارت لوي مرکز وو، طائف او مدينه مشهور ښارونه

www.alukah.net
شبكة الألوكة



وو، پدے معاشره کښې ظلم اوزياتے ډير وو، د کمزورو حق چا نه منلو، ژوندے جينکۍ به ئے په زمکه کښې خخولے، عزتونه به لوټ کيدل، زورورو به د کمزورو حق په زبردستۍ سره خوړلو، بے شماره ښځو سره به نکاح کيدله، زنا عام رواج وو، په وړه وړه خبره به د قبيلو ترمينځ جنګونه کيدل، کله به يوه قبيله خپل مينځ کښې جنګ کولو، دا د اسلام د راتللونه مخکښې د جزيره عربي مختصر غوندے تصوير دے

**د ذبيحينو (دوه حلال شوى) کسانو ځوي :**

ټولو قريشو به د عبد المطلب په مقابله کي په خپلو اولادو او مالدارۍ سره فخر کولو نو ددے وجے نه عبد المطلب يوه ورځ نذر منلے وو چه کچرته الله تعالى ماله لس (١٠) نارينه بچى راکړل، نو زه به پکښې يو د خپلو آلهو د رضا کولو دپاره ذبح کوم، د عبد المطلب دا آرمان پوره شو، الله تعالى ورله لس (١٠) نارينه اولاد ورکړل چه يو پکښې د نبى کريم ﷺ پلار عبد الله وو، کله چه عبد المطلب خپل نذر پوره کول وغوښتل، نو د ځامنو ترمينځ ئے قرعه اندازى وکړه، نو د عبد الله نوم راووتلو، عبدالمطلب چه کله د عبد الله د ذبح کولو اراده وکړه، نو خلق راجمع شول چه عبد المطلب ددے

كار نه منع كړي، هسے نه چه دا كار په خلقو كښې رواج جوړ نه شي،بالآخر پدے فيصله وشوه چه د عبد الله او د لسو (١٠) اوښانو ترمينځ به قرعه واچوی، پدے طريقه به دا د عبد الله فديه جوړه شي، قرعه ئے چه واچوله نو د عبدالله نوم راووتلو، نو هغوی د اوښانو عدد دوچنده كړلو، بيا هم نوم د عبد الله راغے، پدے طريقه ئے اوښان ډيرول ډيرول او قرعه كښې به نوم د عبدالله راوتلو ترڈے چه د اوښانو تعداد سل (١٠٠) شو، نو بيا د اوښانو نوم راوختلو، عبد المطلب سل اوښان ذبح كړل د عبدالله په فديه كښې،د نورو ځامنو په نسبت عبد الله پلار ته ډير ګران وو، او خاصكر د سلو اوښانو د فدئے نه پس ئے ورسره ډيره مينه كوله، عبد المطلب د خپل ځوی عبد الله دپاره د بنی زهره قبيلے د يوے جينئ آمنه بنت وهيب انتخاب وكړو، او د هغے سره ئے ورله نكاح وكړه، آمنه بی بی حامله شوله، ددے د حمل نه درے مياشتے پس عبد الله د تجارتی قافلے سره د شام په طرف روان شو، واپسئ كښې بيمار شو، چونكه بنی نجار دده ماماګان وو مدينه كښې نو هلته ايسار شو ترڈے چه وفات شو او هلته دفن شو.

www.alukah.net
شبكة الألوكة



د حمل ورځې پوره شوے او نبی کریم ﷺ دګل په ورځ (یوم الاثنین) باندے پیدا شولو، البته د تاریخی اختلاف د وجے نه د نبی کریم ﷺ د پیدائش صحیح میاشت او ورځ معلومه نده، د یو روایت مطابق د نبی کریم ﷺ پیدائش په ۹ربیع الاول باندے شوے دے، د دویم روایت مطابق ۱۲ ربیع الاول دے،د دریم روایت مطابق رمضان کښې پیدا شویدے، ددے نه علاوه هم نور روایتونه موجود دی، دا واقعه ۵۷۱ء کښې راغلے وه،دے کال ته (عام الفیل) هم وائی، پدے کال باندے ابرهه د هاتیانو سره په مکه حمله کړے وه چه الله ذلیله کړے وو.

**د هاتیانو واقعه :**

یمن کښې د نجاشی بادشاه د طرفنه ګورنر ابرهه وکتل چه عرب مکے ته ځی، او د خانه کعبے طواف کوی، او حج کوی، د هغے عزت کوی، او د لرے لرے نه راځی، نو ده په صنعاء کښې یوه لویه کنیسه جوړه کړه، دے دپاره چه خلق د مکے په ځائ د حج دپاره صنعاء ته راځی، نو د کنانه قبیلے یو سړے خبر شو نو هغه د شپے لاړو او دغه کنیسی ته ننوتو او د هغے دیوالونه ئے په ګندګئ باندے ولړل، هرکله

www.alukah.net
شبكة الألوكة



چه ابرهه ددے خبرے نه خبر شو نو د غصے نه لمبه شو، او شپیته زره (٦٠٠٠٠) لښکر ئے تیار کړو، او ورسره نهه (٩) هاتیان وو، دا لښکر د مکے مکرمے په طرف روان شو چه خانه کعبه ورانه کړی او هغه ونړوی .د ټولو نه غټ هاتی ئے د خپل ذاتی استعمال دپاره خاص کړو چه دا لښکر د مکے مکرمے خوا ته ورسیدو لړ ایسار شو او بیا ئے مکے ته د داخلیدو حکم وکړو، لیکن هغه غټ هاتی کیناستو، او مخکښې نه تللو کله چه بل طرفته ورله مخ کړو نو په تیزئ سره به تللو، لیکن چه کله به ئے ورله مخ د خانه کعبے طرفته کړو نو کیناستو به او مخکښې به نه تللو، دا خلق پدے پریشانئ کښې وو چه الله تعالی د مارغانو یو لښکر راولیږلو چه په جهنم کښې پاخه شوو کانړو باندے ئے ویشتل، د هر مارغه سره درے درے کانړی وو، یو په خوله کښې او دوه په خپو کښې، د چنړے په مقدار یو یو کانړے وو، څوک چه به په کانړی ولګیدو د هغه اندامونه به رژیدل، او بالآخر به مړ شو، د مکے قریش یو طرفته او بل طرفته تختیدلی وو، څوک په غرونو کښې پټ شوی وو، چه ددے غټ لښکر نه ځان بچ کړی هرکله چه ورته معلومه شوله

چه د لښکر ډير بد حال دے نو پوره په امن سره خپلو کورونو ته راغلل، دا واقعه د نبي كريم ﷺ د پيدائش نه تقريبا (٥٠) ورځے مخکښې شوے وه .

## د نبي كريم ﷺ پالنه او رضاعت (تئے رودل) :

نبي كريم ﷺ د پيدائش نه پس د ابولهب وينځے ثُوَيبه ورله پئ ورکول، ددے نه مخکښې د نبي كريم ﷺ تره حمزه بن عبد المطلب له ئے پئ ورکړی وو، ددے وجے نه حمزه رضی الله عنه د نبي كريمﷺ رضاعی ورور هم وو،د عربو دا طريقه وه چه ماشوم به پيدا شو نو بانډو ته ئے د پيوو دپاره ليږلو چه قوي بدن ئے جوړ شي، او صحيح تربيت ئے وشی، او فصيحه عربي ياده کړی، ددے مقصد دپاره نبي كريم ﷺ هم بانډو ته نقل شو،په دغه دور کښې د بنی سعد قبيلے زنانه مکے ته د ماشومانو دپاره راغلی وو، ټولو زنانو نبي كريم ﷺ پريښودلو ځکه چه يتيم دے، حليمے سعديے هم اول پريښودو ليکن داسے يو ماشوم ئے پيدا نه کړو چه د دوی د غريبئ بوج کم کړی، دوباره نبي كريم ﷺ ئے په کمه مزدورئ باندے د ځان سره واغستلو، او کور ته ئے راوستلو، حليمه د خپل خاوند سره يو کمزوری خره باندے مکے مکرمے ته راغلے

www.alukah.net
شبكة الألوكة



وه، واپسئ کښې د حليمې په غېږه کښې محمد رسول الله ﷺ دے، دغه کمزورے خره تيز تيز منزل کوی، تردے پورے چه د ټولو سورلو نه مخکښې شوله، ټولو ملګرو ورته تعجب کوو، حليمه بی بی بيان کوی چه زما سينو کښې پئ نه وو، زما خپل ځوی به هم د لوږے د وجه نه ژړل، د کله نه مے چه نبی کريمﷺ ته پئ ورکول شروع کړل، زما په سينو کښې ډير پئ پيدا شو بيا فرمائي : چه په بنی سعد قبيله کښې خشک سالی وه، د کله نه چه دا مبارک بچے دے زمکے ته د پيوو دپاره راوستے شو نو دا زمکه سرسبزه شوله، څاروی ساربه شول، او حالت ئے خائسته شو، نبی کريم ﷺد حليمے سره دوه کاله تير کړل،حليمے به ددے ماشوم ډير خيال ساتلو، دوه کاله تيريدو نه پس حليمے نبی کريم ﷺ د ځان سره کړو، او د خپل مور او نيکه خواله ئے مکے مکرمے ته راوستلو، چونکه حليمے د نبی کريمﷺ برکت ليدلے وو، نو د آمنے نه ئے دوباره مطالبه وکړه چه محمد ﷺ به دوباره زما سره اوسيږی، آمنے ددے خبره ومنله، حليمے دوباره دے يتيم ماشوم لره بنی سعد قبيلے علاقے ته راوستلو، چه ډيره خوشحالی ئی کوله او نيک بختته وه .

## د شق صدر (د سينے سيريدو) واقعه :

د نبي كريم ﷺ عمر تقريباً څلور كاله وو چه يوه ورځ نبي كريم ﷺ د خپل رضاعى ورور (د حليمے ځوي) سره لوبے كولے، د كور نه لرې لرے د حليمے ځوى په منډه منډه راغے، په مخ باندے ئے غم ښكاره وو، مور ته وائى د قريشي ورور مدد له ځان ورسوئ، مور د بچى نه تپوس وكړو چه څه چل دے ؟ هغه ورته قيصه وكړه چه دوه سفيد پوش كسان راغلل، ورور ئے راله په زمكه سملولو او سينه ئے ورله په چاړه وسيرله، هغه لا خبره ختمه كړے نه وه حليمے منډه كړه څه گورى چه نبي كريم ﷺ په خپل ځاي چپ چاپ ولاړ دے، رنګ ئے تک زيړ دے، حليمے ترے تپوس وكړو، هغه ووئيل : خيريت سره يم، بيا ئے ووئيل چه دوه سپينو جامو والا كسان راغلل او زما سينه ئے وشلوله او زما زړه ئے راويستلو، د هغے ئے نه توره ټوټه بهر گوزار كړه، او زړه ئے راله په يخو اوبو ووينځلو، او په خپل ځاى باندے ئے كيښودلو، بيا ئے راله سينه بنده كړه، او لاړل، د ستركو نه پناه شول،

www.alukah.net
شبكة الألوكة



حليمے هلك د ځان سره خپل کور ته راوستلو، بله ورځ ئے سهار وختی د ځان سره مکے ته راوستلو، آمنه د حليمے په بے وخته راتللو حيرانه شوله ځکه چه حليمے د ځان سره ډير په مينه بوتللے وو چه تپوس ئے وکړو نو حليمے د شق صدر ټوله قيصه بيان کړه.

**د مور او د نيکه وفات:**

بی بی آمنه د خپل يتيم بچی سره مدينے ته لاړه د عبد الله د قبر د زيارت دپاره، مدينه کښې بنو نجار قبيله کښې يو څو ورځے ديره شوله، بيا واپس مکے ته رارروانه شوه، د اَبواء مقام سره آمنه وفات شوه، او هلته دفن کړے شوه،د نبی کريم ﷺ عمر تقريباً شپږ کاله وو چه مور بي بي ئے وفات شوه، د مور د وفات نه پس د نبی کريم ﷺ د کفالت ذمه واری نيکه عبد المطلب واخستله، هغه د نبی کريم ﷺ بے حده خيال ساتلو، د نبی کريم ﷺ تربيت کولو هغه سره ئے شفقت کولو، کله چه د نبی کريمﷺ عمر اته (٨) کاله شو، نو نيکه ئے وفات شو، د نبی کريمﷺد پرورش ذمه واری ابو طالب ته نقل شوله،

شبكة الألوكة - قسم الكتب

د ابو طالب مالي حالت کمزورے وو او خاندان ئے لوئی وو، د هغے باوجود ابو طالب او د هغه ښځے نبي کریمﷺ د خپلو بچو پشان وساتلو، ددے وجے نه د نبي کریمﷺ د ابوطالب سره مینه وه، داسے حالاتو کښې نبي کریمﷺ پرورش حاصل کړو، د نبي کریمﷺ تربیت په صداقت او امانت باندے وشو تردے چه نبي کریمﷺ د صادق او آمین په لقب باندے مشهور شو، که چابه ووئیل چه صادق او آمین راغلے دے نو هرچا ته معلومه وه چه دا نبي کریمﷺ یادوی .

**تجارت او واده :**

کله چه نبي کریمﷺ لږ رالوئی شو، د خپلے زندګئ ټول معاملات ئے پخپله سنبال کړل، نبي کریم ﷺ د کار او کسب سلسله شروع کړه، په معمولي مزدورئ باندے ئے د قریشو ګډے بیزے سرولے، شام ته تجارتي قافلے کښې شریک شو چه اکثر مال پکښې د خدیجه بنت خویلد وو، خدیجه یوه کُنډه ښځه وه، او ډیره مالداره وه، د میسره په نوم غلام د خدیجے د تجارت انچارج وو،

www.alukah.net
شبكة الألوكة



د نبي كريم ﷺ د بركت د وجے نه تجارت كښې ډيره زياته منافع وشوه، ددے لوئی منافع باره كښې خديجے د خپل غلام نه تپوس وكړو، هغه ووئيل چه محمد بن عبد الله به سوداء اخستله او خرخوله نو خلق به په ګڼړ تعداد كښې هغه ته راتلل، چا باندے د ظلم نه بغير به ئے ډيره منافع كوله،خديجے دميسره خبرے خه په غور واوريدلے، حالانكه هغه پخپله هم د نبي كريمﷺ په باره د هغه د امانت او صدق نه خبره وه، خديجه پدے ډيره خوشحاله شوله او د نبي كريم ﷺ سره ئے د نكاح دپاره مينه پيدا شوه، نو خديجے خپله ملګرے د نبي كريم ﷺ د رائے معلومولو دپاره وليږله چه هغه د نكاح باره كښې څه وائی، دے وخت كښې د نبي كريمﷺ عمرمبارك (٢٥) پنځه ويشت كاله وو، دے ښځے د خديجے د طرفنه پيغام نبي كريمﷺ ته ورسولو، نبي كريمﷺ هغه قبول كړو، پدے طريقه سره نكاح وشوله، دواړه ښځه او خاوند خپل مينځ كښې ډير خوشحاله وو، نبي كريمﷺ د خديجے په مال كښې تجارت شروع كړو، وخت تيريدو سره سره د خديجے نه د نبي كريمﷺ اولاد پيدا كيدل، زينب، رقية، ام كلثوم، او فاطمه رضى الله عنهن او په

www.alukah.net
شبكة الألوكة



هلکانو کښې قاسم او عبد الله پيدا شول، دا دواړه په ماشوم توب کښې وفات شو.

# نبوت

د نبي کريم ﷺ عمرمبارک چه څلويښتو کالو ته نزدے ورسيدو نو نبي کريم ﷺ په غار حراء کښې د ځانله والى او خلوت ژوند تيرول شروع کړل، غار حراء د مکے مکرمے نه مشرق طرفته يو غر کښې موجود وو چه نبي کريم ﷺ به کله مسلسل څو شپے هلته وو، او د الله تعالى بندګى به ئے کوله، دلته د رمضان د مياشتے (٢١) يويشتمه نيټه وه، نبي کريم ﷺ غار حراء کښې وو، څلويښت کاله عمر ئے پوره شوے وو چه جبريل عليه السلام ورله راغے، ورته ئے ووئيل: اُووايه! نبي کريم ﷺ ورته ووئيل:زه لوستلونکے نه يم، دغه خبره جبريل عليه السلام درے ځل دوهراو کړه، ليکن نبي کريم ﷺ ورله هغه جواب ورکولو چه زه لوستونکى نه يم، په دريم ځل جبريل عليه السلام ووئيل :[ اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ، خَلَقَ الإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ، اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ، الَّذِي عَلَّمَ بِالقَلَمِ، عَلَّمَ الإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ] {العلق:٥} ترجمه: اُولوله په مدد د نوم د رب ستا هغه ذات چه پيدائش ئے کړے دے (١)پيدا

کړيدے انسان د ټکړے د وينے نه، (۲) لوله هميشه او رب ستا ډير عزت والا دے، (۳) هغه ذات چه تعليم ئے ورکړيدے په قلم سره، (٤) تعليم ئے ورکړيدے انسان ته د هغه څيز چه دے پرے نه پوهيدو .

هغه ملائک بيا واپس شو، ددے نه پس نبي کريم ﷺ غار کښې د ايساريدو طاقت ونه لرلو نو کور ته راغے، کله چه د خديجه بي بي خوا ته ورسيدو نو زړه ئے درزيدو، نبي کريم ﷺ وفرمايل : **(زَمِّلُونِي، زَمِّلُونِي)** ما په کمبل کښې پټ کړه، ما په کمبل کښې پټ کړه،نبي کريم ﷺ ئے په کمبل کښې پټ کړو، تردے پورے چه يره ترے ختمه شوه، بيا ئے ټوله قصه خديجے رضی الله عنها ته بيان کړه، بيا ئے ورته ووېل : زه پخپل ځان ويريږم، خديجے رضی الله عنها ورله تسلي ورکړه چه قسم په الله هيچرے به هم الله تعالی تا ناکامه نه کړی ځکه چه ته خپلولي پالے، خلقو سره مدد کوی، بے روزګاره ته کسب لټوے، ميلمنو له ميلمستيا ورکوے، د حق په باره کښې چه مشکلات راځی هغے کښې د خلقو مدد کوے . د څو ورځو نه پس نبي کريم ﷺ دوباره غار حراء ته د عبادت دپاره لاړو، کله چه د عبادت نه فارغه شو، مکے مکرمے ته

www.alukah.net
شبكة الألوكة



واپس راروان وو، په لاره كښې جبريل عليه السلام كرسى باندے ناست دے، د آسمان او زمكے مينځ كښې په نظر راځى، جبريل امين ددے آيتونو وحى وكړه : [يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ، قُمْ فَأَنْذِرْ، وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ، وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ، وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ، وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ] {المدَّثر:٦} ترجمه: اے كمبل كښې انغختونكيه، اُودريږه نو ويره وركړه، او خاص د رب خپل لوئى وايه، او جامے خپلے پاكے ساته، او هرے پليتئ نه ډډه اُوكړه . ددے نه پس د وحى سلسله شروع شوه، پرله پسے وحى راتلله، كله چه نبي كريم ﷺ د دعوت آغاز وكړو، اول د ايمان په آواز باندے لبيك د هغه بى بى خديجه رضى الله عنها اووئيلو، د الله د وحدانيت ګواهى ئے وكړه، او د نبي كريم ﷺ رسالت ته ئے ځان تسليم كړو، او په اسلام كښې د ټولو نه اول ئے اسلام قبول كړو، رسول الله ﷺ ددے نه پس د خپل نزدے دوست ابوبكر صديق سره خبره وكړه، هغه هم خبره ومنله، او ايمان ئے راوړو، ذره برابر شك ئے هم ونكړو، چونكه ابو طالب د نبي كريم ﷺ مور او د نيكه د وفات نه پس پرورش كړے وو، ددے وجے نه چه كله نبي كريم ﷺ په خپلو خپو اودريدو، نو د خپل تره ابو طالب ځوى د على رضي

www.alukah.net
شبكة الألوكة



الله عنه د کفالت ذمه واری ئے اخستے وه،پدے ماحول کښې الله تعالی د علی رضی الله عنه سینه د اسلام دپاره پرانستله، او اسلام ئے قبول کړو، د دوی نه پس د خدیجے رضی الله عنها غلام زیدبن حارثه ایمان راوړو، نبی کریمﷺ پټ پټ د اسلام دعوت چلولو، او مسلمانانو خپل اسلام پټ کړے وو ځکه که قریشو ته به پته ولګیده چه چا اسلام قبول کړے دے، هغه له به ئے سزاګانے ورکولے چه د اسلام نه واپس شی .

**ښکاره دعوت :**

د رسول الله ﷺ د پټ دعوت چه کله درے کاله وشو، نو د الله تعالی د طرفنه حکم راغے : [**فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ**] {الحجر:٩٤} ترجمه: پس صفا صفا بیان کړه هغه چه تا ته حکم کړے شویدے د هغے د بیانولو، او مخ اوګرځوه د مشرکانو نه .یوه ورځ رسول الله ﷺ صفا غونډۍ باندے اُودریدو، مکے والو ته ئے آواز وکړو، ډیر خلق راجمع شول، دے خلقو کښې د نبی کریم ﷺ تره ابو لهب هم موجود وو چه د الله او د رسول په دشمنۍ کښې د هر چا نه مخکښې وو،خلق چه کله راغلل نبی کریم ﷺ وفرمایل : که

شبكة الألوكة - قسم الكتب

زه تاسو له خبر درکړم چه ددے غر نه هغه طرفته دشمن دے، تاسو باندے حمله کوی نو تاسو به زما خبره ومنئ، ټولو ووئیل : مونږه ته نه ئے موندلے مګر ریشتونے او امانت دار،نو رسول الله ﷺ وفرمایل: زه ستاسو دپاره یره درکونکے یم مخکښې ددے نه چه سخت عذاب د الله راشی، ددے نه پس نبی کریم ﷺ الله طرفته دعوت شروع کړو، او د بت پرستئ چه په هغه زمانه کښې رواج وو تردید به ئے کولو، دغه ځائ کښې موجود ابو لهب غصه شو، وے وئیل : (معاذ الله) هلاک شے، تا مونږ ددے خبرے دپاره راجمع کړی یو، الله تعالی د ابو لهب په باره کښې داسے آیاتونه نازل کړل چه تر قیامته پورے به لوستلے کیږی :[بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ] [تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ. مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ. سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ. وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الحَطَبِ. فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ] {المسد:٥} ترجمه: هلاک شول دواړه لاسونه د ابو لهب او هلاک شو دے، فائده ورنکړه ده ته مال د ده او هغه څیز چه ده ګټلی وو، زر دے چه ورننوځی به اُور لمبو والا ته ، او ښځه دده چه راوچتوونکے د خشاکو ده ، په ستځ د هغے کښې رسئ ده د پوستکي د کجورو نه .نبی کریم ﷺ خپل

www.alukah.net
شبكة الألوكة



دعوت باندے کلک ولاړ وو، چرته به چه د خلقو اجتماع په نظر راتلله، هغوی ته به ئے دعوت ورکولو، د خانه کعبے خوا کښې به ئے مونځ ادا کولو، او د خلقو په اجتماعاتو کښې به شریک کیدلو، او د اسلام پیغام رسولو او دعوت ورکولو دپاره به د مشرکانو بازارونو ته ورتللو، ډیر تکلیفونه به ئے برداشت کول، کومو خلقو به چه ایمان راوړو مشرکانو به ډیر تکلیفونه ورکول لکه چه سمیه او یاسر او عمار رضی الله عنهم ته ئے دومره سزاګانے ورکړے چه یاسر او سمیه رضی الله عنهما شهیدان شول، سمیه رضی الله عنها هغه ښځه ده چه په اسلام کي اوله شهیده شوے ده، یاسر رضي الله عنه په اسلام کښې اول د شهادت درجه حاصله کړیده، بلال بن رباح حبشی رضی الله عنه ته هم امیه بن خلف او ابوجهل ډیرے سزاګانے ورکړی وے، ورته به ئے وئیل : اے بلاله ! اسلام پریږده، بلال رضی الله عنه په اسلا باندے مضبوط وو، امیه بلال رضی الله عنه په زنځیرونو کښې وتړلو، او بهر د مکے مکرمے په ګرمو شګو کښې به ئے څملولو، او پخپله هم او په نور مشرکانو باندے به ئے هم په کوړو وهلو، د بلال رضی الله عنه د خولے مبارکے نه به صرف د اَحد اَحد آواز

شبكة الألوكة - قسم الكتب

www.alukah.net
شبكة الألوكة



راتللو، يوه ورځ ابو بکر صديق رضي الله عنه وربانده تير شو، نو د اميه نه ئے واخستلو او د الله دپاره ئے آزاد کړو. پدے مشکل حالت کښې د حکمت د وجه نه رسول الله ﷺ مسلمانان د اسلام د ښکاره کولو نه منع کړی وو، ددے وجے نه به نبي اکرم ﷺ د صحابه کرامو سره په تنهائی کښې ميلاويدو، کچرته نبي کريم ﷺ ښکاره ملاويدلے نو مشرکانو به د هغه او د هغه د دعوت ترمينځ مانع واقع کيدلے، او ممکنه وه چه ددے وجه نه د دواړو ډلو مينځ کښې جنګ راغلے وے، چونکه د مسلمانانو تعداد هم کم وو، او اسباب د جنګ هم نه وو، ددے وجے نه نبي کريم ﷺ مسلمانانو ته د اسلام د پټولو حکم کړے وو، رسول الله ﷺ به د مشرکانو مخکښې د تکليفونو باوجود ښکاره دعوت او عبادت کولو.

**حبشو ته هجرت:**

اسلام چه چا قبول کړے وو، او مشرکانو ترے خبر وو نو هغوی ته به ئے ډير تکليفونه رسول، خاصکر د معاشرے هغه کمزوري صحابه کرام رضوان الله عليهم اجمعين ته نو رسول الله ﷺ دوي ته حبشو ته د نجاشي بادشاه خوا ته د

www.alukah.net
شبكة الألوكة



هجرت اجازه ورکړه، دا واقعه د نبوت په پنځم کال راغله، تقریباً اوویا (۷۰) کسانو د خپلو ښځو او بچو سره حبشو ته هجرت وکړو، هجرت کونکو کښې عثمان بن عفان رضی الله عنه او د هغه کور والا رقیة د رسول ﷺ لور ورسره هم پدے سفر کښې ملګرے وه، قریشو پوره کوشش وکړو چه حبشو کښې هم مسلمانان سکون باندے ژوند تیر نه کړی، نو د نجاشی بادشاه په خدمت کښې مختلفے ډالئ وغیره پیش کړے، او دا مطالبه ئے وکړه چه دا خلق مکے والو ته حواله کړی، او مکے والو دا الزام ولګوو چه دا مسلمانان عیسی علیه السلام او د هغه مور ته بد رد وائی، نجاشی چه د مسلمانانو نه د حقیقت په باره کښې تپوس وکړو، نو هغوی جواب کښې قرآن ولوستلو هغه چه د عیسی او مریم علیهما السلام په باره کښې نازل شوی وو، نجاشی چه قرآن کریم واوریدو نو د مسلمانانو د خبرے تائید ئے وکړو، مسلمانان ئے مکے والو ته د حواله کولو نه انکار وکړو، او پخپله د ایمان راوړلو اعلان ئے وکړو .

www.alukah.net



## عجيبه واقعه :

ددے کال په رمضان کښې رسول اللهﷺ يوه ورځ مسجد حرام ته راغلو، او د ټولو خلقو په مينځ کښې ئے د سورة النجم تلاوت شروع کړو چه قريش هم ګنړ تعداد کښې موجود وو، دے کافرانو مخکښې چرته هم د قرآن کريم تلاوت نه وو آوريدلے ځکه دوی خپل مينځ کښې دا لوظ کړے وو چه محمد ﷺ ته به غوږ نه ږدو، کله چه ناساپې ددے خلقو مخکښې دقرآن کريم ددے مبارک سورت تلاوت شروع شو، ددے په غوږونو ډير عجيبه ولګيدو او قرآن ته غير اختيارى متوجه شو، کله چه رسول الله ﷺ ددے آيت (فَاسْجُدُوا لِلَّهِ وَاعْبُدُوا) النجم: ٢٦) ترجمه:دخپل رب مخکښې سجده وکړئ اودهغه عبادت وکړئ .رسول الله ﷺسجده وکړه نوټول په ټوله بے اختياره په سجده باندے پريوتل .

## هرقسم تعلق پريکول :

قريشو هميشه دپاره د نبي کريم ﷺ د دعوت هر قسمه مخالفت کولو، او هره ورځ به ئے نوی نوی انداز کښې

www.alukah.net



تکليفونه ورکول، دهمکيانے به ئے ورکولے، کله کله لالچ د مال او د ښځے ورکولو، دے ټولو تکليفونو به مسلمانان په خپل باندے مضبوطول، او د ايمان والو تعداد به ورځ په ورځ زياتيدو، نو کافرانو د مسلمانانو خلاف يو نوے محاذ پرانستلو، خپل مينځ کښې ئے يوه معاهده وليکله، ټولو پدے اتفاق وکړو، او خانه کعبه کښې ئے آويزانده کړه، چه د مسلمانانو او بنو هاشمو سره به هر قسمه تعلقات ختم کړے شی، د دوی سره اخستل، خرڅول، نکاح ،او هر قسمه تعاون به ختم کړے شی، مسلمانان مجبورًا د مکے مکرمے نه بهر شعب ابی طالب ته نقل شول، پدے ځائ کښې مسلمانو ته ډير تکليف وو، لوږه او نور ډير مشکلات وو، کوم مسلمانان چه مالداره وو،هغوی خپل ټول مال په نورو مسلمانانو باندے خرچه کړو لکه خديجه رضی الله عنها، او دوي ته مرضونه ولګيدل، او ډير خلق مرګ ته نزدے شول، ليکن ددے هرڅه باوجود مسلمانان مضبوط وو، او صبر ئے کولو، يو تن هم د خپل دين نه روستو نه شو، دا سلسله تر درے کالو پورے وه، تردے چه قريشو کښې څو مشرانو ددے خلاف آواز اوچت کړو، دا خلق د بنو هاشم نزدے

www.alukah.net
شبكة الألوكة



رشته دار وو، هغوی ښکاره ددے اعلان مخالفت وکړو،کله چه دا معاهده د خانه کعبے نه رابهرکړه، معلومه شو چه چينجو ټول کاغذ خوړلے وو، صرف د الله نوم باقی وو، پدے طريقه سره د مشکل وخت ختم شو، بنو هاشم او مسلمانان مکے مکرمے ته واپس راغلل، ليکن قريشو په مسلمانانو باندے د ظلمونو سلسله جاری وساتله .

**د غم کال :**

د شعب ابی طالب د راتللونه پس ابو طالب بيمار شو د نبي کريمﷺ تره صاحب فراش شو، څو ورځے تيرے شوے نوے چه ابو طالب باندے د مرګ علامے ښکاره شوے، رسول اللهﷺ د تره سر طرفته کيناستو، د مرګ نه مخکښې ئے ترے د لااله الا الله د اقرار مطالبه کوله، ليکن بل طرفته کافران رشته دار خاصکر ابوجهل د اسلام د قبلولو نه منع کولو او ورته ئے وئيل چه ته د خپل پلار نيکه دين پريږدے، د عبد المطلب ددين نه مخ اَړوے، تردے چه ابو طالب د شرک په حالت کښې وفات شو، رسول اللهﷺ ته د ابو طالب په وفات باندے ډير غم ورسيدو، ځکه چه د شرک په حالت کښې وفات شو، د ابو طالب د مرګ نه دوه

www.alukah.net
شبكة الألوكة



میاشتے پس خدیجه رضی الله عنها وفات شوه چه رسول الله ﷺ ته ډیر غم ورسیدو، ددے دواړو د وفات نه پس مشرکانو نبی کریم ﷺ باندے تکلیفونه نور هم ډیر کړل .

**طائف ته سفر:**

د قریشو سرکشی فرعونیت او مسلمانانو ته تکلیف ورکول د حد نه ډیر شوو نبی کریم ﷺ طائف ته د سفر کولو اراده وکړه، کیدے شی الله تعالی هغوی ته هدایت وکړی طائف ته تلل څه آسان نه وو، یو خو د طائف لار په غرونو کښې مشکله وه، او بل د طائف والو د طرفنه جواب انتهائی تکلیف والا وو، دے خلقو د نبی کریم ﷺ په خبره هیڅ پرواه ونکړه بلکه بدے بدے خبرے ئے ورته وکړے، او ماشومان ئے ورپسے کړل په کاڼړو ویشتلو تردے پورے چه د نبی کریم ﷺ پنړے مبارکے د وینونه ډکے شوے پدے مشکل حالت کښې نبی کریم ﷺ مکے مکرمے ته د واپس تللو فیصله وکړه، رسول الله ﷺ ډیر زیات خفه او غمجن وو، پدے وخت کښې جبرئیل علیه السلام سره د غرونو ملائک راغلو، جبرئیل علیه السلام وفرمائیل : (**وَقَدْ بَعَثَ إِلَيْكَ مَلَكَ الجِبَالِ لِتَأْمُرَهُ بِمَا شِئْتَ**) .ترجمه : یقینا الله تعالی د

شبكة الألوكة - قسم الكتب

غرونو والا ملائک تاته رالیږلے دے دے دپاره چه ته ورته حکم وکړے څه چه ستا خوخه وی، ملائک ووئیل : (**إِنْ شِئْتَ أَنْ أُطْبِقَ عَلَيْهِمِ الأَخْشَبَيْنِ**) اے محمد ﷺ که ستا خوخه وی زه به دے قوم باندے دا دوه غرونه یوځای کړم . نبی کریمﷺ جواب ورکړو : (**بَلْ أَرْجُو أَنْ يُخْرِجَ اللَّهُ مِنْ أَصْلاَبِهِمْ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ وَحْدَهُ لاَ يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا**).بلکه زما دا امید دے چه الله تعالی به د دوی په نسلونو کښې داسے خلق پیدا کړی چه د الله تعالی عبادت به کوی او د الله تعالی سره به هیڅوک نه شریک کوی، حالانکه نبی کریم ﷺ ته ددے خلقو د طرفنه ډیر تکلیف رسیدلے وو لیکن د هغے باوجود هم نبی کریم ﷺ د خپل قوم په باره کښې د شفقت او د صبر مظاهره وکړه .

**د سپوږمۍ دوه ټکړے کیدل :**

د مکے مشرکانو به بار بار د رسول اللهﷺ نه د معجزاتو مطالبه کوله، داسے معجزه راوړه چه هغے سره زمونږ ستا په نبوت یقین راشی، دا مطالبه به ئے بار بار کوله، یو ځل ئے دا مطالبه هم وکړه چه دا سپوږمۍ دوه ټکړے کړه، نبی کریم ﷺ د الله تعالی نه دعاء وکړه، الله تعالی سپوږمۍ دوه ټکړے

www.alukah.net



كړه، چه قريشو تر ډېر وخت پورے كتله، ددے باوجود ئے د ايمان راوړلو نه انكار وكړو، بيا ئے ووئيل چه محمد (ﷺ) مونږ باندے جادو وكړو،يو سړى ووئيل كه محمد (ﷺ) تاسو باندے جادو كړے دے نو ټولو خلقو باندے خو جادو نشي كولے، نو قريش د بهر نه د راتلونكو خلقو انتظار كولو كله چه د بهر نه مسافر راغلل نو د هغوى نه ئے تپوس وكړو، هغوى جواب وركړو چه آو مونږ دا واقعه ليدلے ده، ددے ښكاره معجزے باوجود هم مشركان په خپل كفر باندے مضبوط وو.

**د اسراء او معراج واقعه:**

د طائف نه رسول الله ﷺ ډېر د غم په حالت كښې راواپس شوے وو، ددے نه مخكښې ابو طالب وفات شو، وروسے خديجه رضى الله عنها وفات شوے وه، او مشركانو ظلمونه هم د حد نه ډېر شوى وو، نبي كريم ﷺ لره غمونو د هر طرفنه راګير كړے وو، داسے حالت كښې د الله تعالى د طرفنه د اطمينان او سكينه اسباب راغلل، يوه شپه نبي كريم ﷺ آرام كولو چه جبريل عليه السلام د براق سره راغلو، براق د آس پشان حيوان وو، د بجلئ پشان تيز رفتار وو، نبي

www.alukah.net
شبكة الألوكة



كريم ﷺ پدے سورلی باندے كيناستولے شو او فلسطين ته بيت المقدس ته بوتللے شو، د هلته نه نبي كريم ﷺ آسمانونو ته سفر وكړو چه پدے سفر كښې نبي كريمﷺ د الله تعالى د قدرت ډيرے نښے وليدلے،پدے سفر كښې پنځه مونځونه فرض شو، او په دے شپه واپس مكے ته راغلو، او د نبي كريم ﷺ زړه مطمئن او مضبوط شوے وو، ددے په باره كښې الله تعالى فرمائی : [سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّه هُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ] {الإسراء:١} ترجمه: پاكى ده الله تعالى لره (د هر قسم شرك او د عيبونو نه) هغه ذات دے چه بو ئے تلو بنده خپل په ټكره د شپه كښې د مسجد حرام نه تر مسجد اقصى پورے، هغه چه بركات اچولى دى مونږ چاپيره د هغے نه، دپاره ددے چه اوښايو مونږ ده ته د نښو د قدرت او د توحيد زمونږ نه، يقينا الله تعالى هر څه آورى او هر څه وينى .بله ورځ نبي كريم ﷺ خانه كعبے سره كيناستو او خلقو ته ئے د تيرے شوے شپے حالات بيانول، كافرانو د نبي كريم ﷺ د خبرے تكذيب وكړو، خنداكانے ئے كولے، يو تن ووئيل چه ته بيت المقدس ته تللے ئے نو مونږ ته د

www.alukah.net
شبكة الألوكة



هغے شکل بیان کړه، مقصد ئے د نبی کریم ﷺ دروغجن ثابتول وو، الله تعالی بیت المقدس د نبی کریم ﷺ د سترګو مخکښې را اُوچت کړو، د مشرکانو د ټولو تپوسونو جواب ئے ورکړو، مشرکانو پدے خبره یقین ونکړو، د بل دلیل مطالبه ئے وکړه دویم دلیل نبی کریم ﷺ ورته وویل چه لاره کښې یوه قافله مکے مکرمے ته راتلله، نبی کریم ﷺ د هغے ټول احوال بیان کړل چه څومره اُوښان دی، څو ورځو کښې به راورسی،

لیکن ددے هرڅه باوجود کفار په خپل ضد باندے کلک وو، په بله ورځ جبرئیل علیه السلام راغے او نبی کریم ﷺ ته ئے د مونځونو طریقه او وختونه وښودل، اول صرف سهار دوه رکعاته او د ماسخوتن دوه رکعاته مونځ فرض وو،پدے موقعه نبی کریم ﷺ خپل دعوت صرف د بهر نه راتلونکی خلقو دپاره خاص کړے وو چه مکے والا د اسلام په خلاف قسم خوړلے وو، د بهر نه راتلونکی ته به ئے د پناه اخستلو په باره کښې هم خبره کوله چه ما له په خپل ملك کي پناه راکړئ، او اسلام به ئے د هغوی مخکښې پیش کولو، او وضاحت به ئے ورته کولو، بل طرفته به ابولهب د نبی کریم

www.alukah.net
شبكة الألوكة



ﷺ شاته روان وو، او خلق به ئے د نبي كريم ﷺ د دعوت نه منع كول، يو ځل څه كسان د مدينے (يثرب) نه حج له راغلي وو، نبي كريم ﷺ ورته دعوت وركړو، هغوی د نبي كريمﷺ خبرے ته خه غوږ كيښودو، او په نبي كريم ﷺ باندے ايمان راوړلو كښې متفق شو، او ايمان ئے قبول كړو، مدينے والو د يهودو نه آوريدلی وو چه آخره زمانه كښې به يو نبي راځي كله چه نبي كريم ﷺ دوی ته دعوت وركړو نو دوي ووئيل چه دا هغه آخري نبي كريم دے، هسے نه چه يهود رانه مخكښې نه شی، دا شپږ كسان وو، بل كال باندے د مدينے نه دولس (١٢) كسان راغلل، نبي كريمﷺ ورسره مصعب بن عمير رضی الله عنه وليږلو چه مدينے والو ته قرآن وښائی، او د دين احكام ورته وښائی د الله تعالی په مدد سره مصعب رضی الله عنه مدينے والو باندے ښه محنت وكړو، يو كال پس مكے مكرمے ته واپس راغلو سره د مدينے والو نه دوه اوويا (٧٢) سړی او ښځے راغلل، دا خلق د نبي كريم ﷺ سره ميلاو شول، دوی د نبي كريم ﷺ سره ددين په نصرت باندے بيعت وكړو، او ددے نه پس مدينے ته واپس شول .

www.alukah.net
شبكة الألوكة



## د اسلام د دعوت نوے محاذ :

د حق او حق پرستو دپاره مدينه نوے امن والا ځائے پيدا شو، مسلمانانو هلته هجرت شروع کړو، او دلته د مکے مشرکانو دا کلک عزم کړے وو چه مسلمانان د هجرت نه منع کړی، مهاجرينو ددے وجه نه قسماقسم تکليفونه برداشت کړل، مسلمانانو به د قريشو د يرے نه پټ پټ هجرت کولو، ابوبکر صديق رضي الله عنه به بار بار د نبي کريم ﷺ نه د هجرت اجازت غوښتلو ليکن نبي کريم ﷺ به ورته دا خبره کوله چه جلتي مه کوه، کيدے شي الله تعالى تا له ملګرے پيدا کړی،تردے چه ډيرو مسلمانانو هجرت وکړو چه قريشو ته معلومه شوه چه د مسلمانانو طاقت مدينه کښې پيدا شو، د نبي کريم ﷺ د دعوت د ترقئ نه يريدل، خپل مينځ کښې دوي مشوره وکړه چه معاذ الله نبي کريم ﷺ به قتل کړو، پدے خبره متفق شو، ابو جهل مشوره ورکړه چه د هرے قبيلے نه به يو يو ځوان له توره ورکړو، په يو ځل به حمله وکړی، بيا بنو هاشم به د چا چا سره دشمني کوی، الله تعالى د مشرکانو ددے سازش خبر نبي کريم ﷺ له ورکړو، د الله تعالى د حکم نه بعد نبي کريم ﷺ د ځان سره

www.alukah.net



ابوبکر صديق کړو، او د سفر کولو اراده ئے وکړه، د شپے علي رضی الله عنه ئے پخپله بستره باندے سملولو، مشرکان راجمع شول، د نبي کريم ﷺ د کور نه ئے ګيره واچوله، د نبي کريم ﷺ د راوتلو په انتظار وو چه نبي کريم ﷺ د دوی په صفونو کښې راووتلو او په سرونو ئے ورله خاورے واچولے او دوی ته هيڅ پته ونه لګيده، پدے طريقه نبي کريم ﷺ د ابو بکر رضی الله عنه خوا ته راغلو، د مدينے په سفر د کور نه يوځاي روان شول، اول غار ثور ته لاړل، دلته قريشو د صبا پورے انتظار کولو چه کله د بسترے نه علي رضی الله عنه پاسيدو، مشرکان حيران شول،دوی د علي رضی الله عنه نه د نبي کريم ﷺ په باره کښې تپوس کولو خو هغه حال نه وئيلو، علي رضی الله عنه ئے ووهلو ليکن څه فائده ئے ونکړه، نو مشرکانو هر طرفته کسان خواره کړل، اعلان ئے وکړو چه چا چه نبي کريم ﷺ ژوندے يا معاذ الله مړ راوړو، سل (۱۰۰) اوښان انعام دے، مشرکان تر غار ثور پورے وررورسيدل، کچرته يو تن خپلو ښپو طرفته کتلي وے نو دوی به ئے ليدلي وے، ابوبکر صديق رضي الله عنه سره د نبي کريم ﷺ په باره کښې غم ډير شو، نبي کريم ﷺ وفرمايل :

www.alukah.net
شبكة الألوكة



(مَا ظَنُّكَ يَا أَبَا بَكْرٍ بِاثْنَيْنِ اللَّهُ ثَالِثُهُمَا،لَا تَحْزَن إِن اللهَ مَعَنَا). ترجمه: اے ابوبکر! ستا څه خیال دے د هغه دوه کسانو په باره کښې چه الله ئے دریم دے، مه خفه کیږه الله تعالی زمونږ سره دے .مشرکانو دوی ونه لیدل او نبی کریم ﷺ د ابوبکر صدیق سره په غار کښې درے ورځے تیرے کړے، دے نه پس مدینے ته روان شو، لاره ډیره لویه وه، او ګرمی ډیره سخته وه، په دویمه ورځ د دوی تیریدل یه یوه ښځه وشو چه د ام معبد په نوم باندے وه، دوی د هغے نه د خوراک څښاک طلب وکړو، د ښځے سره هیڅ نه وو، یوه کمزورے بیزه د خیمے یو طرف کښې وه چه د کمزورتیا د وجے نه څر له نه شوه تللے، او یوه قطره پئ هم پکښې نه وو،

نبی کریم ﷺ د هغه بیزے خوا له لاړو، د هغے غولانزه ئے په لاسونو مسح کړه، د هغے نه پئ روان شو، یو لوښے ئے ډک کړو، دا حالت چه ام معبد ولیدو، حیرانه شوله، ټول پئ وڅښکل، دوباره ئے بیا لوښے ډک کړو، هغه ئے د ام معبد سره پریښودو او سفر باندے روان شول . دلته مدینے والا هره ورځ د مدینے نه بهر راوځی او د نبی کریم ﷺ انتظار کوی کله چه نبی کریم ﷺ مدینے ته راغلو نو ټولے مدینے

شبكة الألوكة - قسم الكتب

www.alukah.net
شبكة الألوكة



والو د خوشحالئ د وجے د مرحبا مرحبا آوازونه کول، نبي کريمﷺد مدينے جنوب کښې اقع قباء کښې ديره شو، څلور ورځے هلته وو، او د مسجد قباء بنياد ئے کيښودو، په اسلام کښې اولنے مسجد دا دے، په پنځمه ورځ نبي کريم ﷺ مدينے طرفته روان شو، ډيرو انصارو صحابه کرامو دا کوشش کولو چه د نبي کريمﷺ د ميلمستيا شرف حاصل کړي، د اُوښے مهار ئے نيولے وو، نبي کريم ﷺ ددے خلقو د جذباتو شکريه ادا کوله او دا به ئے وئيل : (**دَعُوهَا فَإِنَّهَا مَأْمُورَةٌ**) دا اوخه پريدئ، ديته امر کړے شويدے، اُوښه لا ړه خپل ځائ کښې کيناستله، بيا پاسيده بل ځائ ته مخکي شوه، بيا ئے خپل ځای ته وکتل نو پاسيده او بيرته خپل مخکني ځائ ته راواپس شوه، او کيناستله، نبي کريم ﷺ ترے کوز شو، او دغه ځای ئے د مسجد دپاره منتخب کړو،رسول الله ﷺ د ابو ايوب انصاری کور کښې ميلمه شو، علی رضي الله عنه درے ورځو پورے مکه کښې ايسار شو چه د رسول الله صلي الله عليه وسلم امانتونه وسپاری، بيا مدينے ته راغلو، قباء کښې د رسول اللهﷺ سره ميلاو شو.

www.alukah.net



## نبي كريم صلي الله عليه وسلم په مدينه كې :

کوم ځائ چه د نبی کریم ﷺ اُوښه ناسته وه هغه زمکه ئے واخسته، او مسجد نبوی ئے آباد کړو، رسول الله د مهاجرینو (چه د مکے نه د نبی کریم ﷺ سره راغلی وو) او انصارو (د مدینے خپل اُوسیدونکی مسلمانان چه مهاجرینو له ئے پناه ورکړے وه) ترمینځ رورولی جوړه کړه، د یو انصاری او یو مهاجر رورولی ئے قائمه کړه چه د هغه مال کښې هم شریک وو، پدے طریقے سره مهاجرین او انصار یو ځائ کار شروع کړو، پدے سره رورولی نوره هم مضبوطه شوه، د مکے مشرکان او د یهودو د مخکښې نه تعلقات موجود وو، مشرکانو د یهودو په ذریعه مسلمانانو کښې جدا والے راوستلو، او کوشش ئے کولو، او مشرکانو دهمکیانے ورکولے چه مونږه مسلمانان ختموو، مسلمانان د بهرنی دشمن (قریشو) او کورنی دشمن (یهود) نه خطره کوله، حالات دومره سخت شو چه صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین به د ځان سره اسلحه د خوب په حالت کښې سرته ایخودله، داسے د تکلیف په حالت کښې الله تعالی د جهاد حکم نازل کړو، رسول اللهﷺ د مجاهدینو دستے یو طرف او بل طرف ته لیږل

www.alukah.net



شروع کړل، چه د دشمن په نقل او حرکت باندے نظر ولری، ددے سره نبی کریم ﷺ په تجارتی قافلو باندے هم حمله کول شروع کړل، چه مشرکانو ته د مسلمانانو د طاقت احساس وشی، او کافران هم د پراُمن اوسیدلو خبرے ته مجبوره شی، او مسلمانان په آزادئ سره د اسلام دعوت وکړی، ددے سره نبی کریم ﷺ د بعضو قبائلو سره معاهدے هم کړے وے.

## جنګ بدر:

رسول الله ﷺ دا فیصله وکړه چه د شام نه د مشرکانو راتلونکی قافلے ته لار ونیولے شی، نبی کریم ﷺ د ځان سره درے سوه دیارلس (۳۱۳) صحابه کرام روان کړل، دوی سره صرف دوه آسونه او اوویا (۷۰) اُوښان وو، د قریشو تجارتی قافله کښې هزار (۱۰۰۰) اُوښان وو چه مشری ئے ابوسفیان کوله، ورسره صرف څلویښت (٤٠) کسان وو، ابوسفیان ته معلومه شوه چه مسلمانان حمله کوی هغه مکے والا د حالاتو نه خبر کړل، او د مدد اپیل ئے وکړو، او پخپله بله لار باندے روان شو، او د مسلمانانو د حملے نه ئے ځان بچ کړو، دلته ابو جهل د مکے د قریشو نه زر (۱۰۰۰) جنګیانو سره د

www.alukah.net



جنګ په نیت روان شو، ابوسفیان استازے ولیږلو چه قافله بچ شوه، تاسو واپس شئ لیکن ابوجهل د واپسئ نه انکار وکړو او خپل سفر ئے جاري وساتلو .رسول الله ﷺ ته چه خبر وشو چه مشرکان د جنګ دپاره راروان دی، د صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین سره ئے مشوره وکړه، اتفاق پدے خبره راغے چه د مشرکانو سره جنګ وکړے شی، او مقابله ورسره وکړے شی، دویم کال د هجرت د رمضان المبارک په اُولسمه ورځ باندے د دواړو لښکرو مقابله وشوله، ډیر سخت جنګ وشو، بالآخر مسلمانانو ته میدان پاتے شو، او مشرکان وتختیدل څوارلس (١٤) مسلمانان شهیدان شول، او اوویا (٧٠) مشرکان مردار شول، او اوویا (٧٠) قیدیان شول، پدے ورځو کښې رقیه بنت رسول الله ﷺ وفات شوه چه د عثمان بن عفان رضی الله عنه په نکاح کښې وه، د نبی کریم ﷺ په سفارش عثمان رضی الله عنه مدینه کښې پاتے شوے وو، جنګ بدر کښې نه وو شریک شوے، د خپلے ناروغه بي بي خدمت ئے کولو، نبی کریم ﷺ د جنګ بدر نه پس د خپلے دویمے لور ام کلثوم رضي الله عنها نکاح د عثمان رضی الله عنه سره وکړه، ددے وجے نه

www.alukah.net



عثمان رضى الله عنه ته ذو النورين وئيلے شي چه د رسول الله ﷺ دوه لونړه د هغه په نكاح كښې يوه پس د بلے نه راغلے وے، د جنګ نه پس مسلمانان مدينے ته خوشحاله راواپس شول، د الله مدد ميلاو شو، قيديان ئے راوستل، مال غنيمت ميلاو شو، قيديانو كښې بعضو نقده فديه وركړه او ځان ئے خلاص كړو او د چا فديه دا مقرر شوه چه د مسلمانانو لس ماشومانو ته به ليكل لوستل ورزده كوى

**.جنګ اُحد :**

د جنګ بدر نه پس پوره يو كال روستو د مسلمانانو او كفارو مينځ كښې دا جنګ وشو، د جنګ بدر بدل اخستلو دپاره مشركانو درے زره (۳۰۰۰) لښكر تيار كړو اُووه سوه (۷۰۰) مسلمانانو د هغے مقابله وكړه، په اول د جنګ كښې مسلمانانو ته فتحه نصيب شوه، كافرانو ميدان پريښودو، مګر دوباره راواپس شو، او د غنډۍ (جبل رماة) د طرفنه ئے په مسلمانانو باندے حمله وكړه، دا هغه غر وو چه رسول الله ﷺ ورباندے غشى ويشتونكى پنځوس كسان مقرر كړى وو، د غنيمتونو د جمع كولو دپاره دوى راكوز شو، ددے وجے نه مسلمانانو ته د كفارو د طرفنه تكليف ورسيدو .

www.alukah.net



## جنګ خندق :

د جنګ اُحد نه پس د يهودو يو وفد مکے والو له لاړو او د مسلمانانو خلاف په مدينه باندے د حملے ترغيب ئے ورکړو، او د هر قسمه امداد وعده ئے ورسره وکړه، مشرکانو د يهودو خبره ومنله، بيا د يهودو نورو قبائلو پسے هم لاړو، او د مسلمانانو په خلاف ئے جنګ ته تيار کړل، هغوی هم اتفاق وکړو، د هر طرفنه کافرانو او مشرکانو د مدينے په طرف روان شو، تقريبًا د لسو زرو (١٠٠٠٠) لښکر په مدينه منوره باندے حمله آور شو، نبي کريم ﷺ د دشمن د سازشونو نه خبر وو، د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه ئے مشوره واخستله،سلمان فارسی رضی الله عنه دا مشوره ورکړه چه د مدينے منورے کوم طرف ته چه غرونه نشته هغه طرف ته به خندق وکنستلے شی.ټول مسلمانان د خندق په کنستلو کښې شريک شو، ددے وجے نه زرتر زره منصوبه مکمل شوه، ددے په نتيجه کښې مشرکان د مدينے نه بهر د يو مياشت پورے په خيمو کښې اُوسيدل، خندق باندے ورتلل ورته ګران وو، آخر کښې الله تعالی تيزه سيلئ راوليږله، او د مشرکانو خيمے ئے والوزولے، کافرانو باندے يره راغله، او په

www.alukah.net
شبكة الألوكة



جلتئ سره خپلو علاقو ته واپس شول، الله تعالى هٔولو لښکرو له په يواځې شکست ورکړو، او د مسلمانانو مدد ئے وکړو.

## د مکے فتح:

په اتم کال د هجرت باندے رسول اللهﷺ فيصله وکړه چه په مکه مکرمه باندے حمله وکړی، په لسم (۱۰) د رمضان المبارک باندے د لس زره (۱۰۰۰۰) مجاهدينو سره روان شو، او بغير د جنګ نه مکے مکرمے ته داخل شو، ځکه چه قريشو اسلحه ايښودلے وه، الله تعالى د مسلمانانو مدد وکړو، نبي کريم ﷺ مسجد الحرام ته داخل شو، د کعبة الله طواف ئے وکړو، بيا کعبے ته دننه ورغلو، او دوه رکعاته مونځ ئے وکړو، او بيا هغه ټول بُتان ئے مات کړل کوم چه خانه کعبه کښې وو، بيا د خانه کعبے په دروازه کښې ودريدو او لاندے قريش ولاړ وو، د خپلے فيصلے انتظار ئے کولو، رسول اللهﷺ مشرکانو ته وويل: چه تاسو څه سوچ کوئ چه زه به تاسو باندے د څه فيصله کونکے يم ؟، ټولو جواب ورکړو چه مونږ ستا نه د خير خواهئ اميد ساتو ځکه چه ته زمونږه عزتمند ورور ئے، او د عزتمند ورور ځوئ ئے. رسول الله ﷺ ورته ووئيل: تاسو ټول آزاد يئ، رسول الله ﷺ د معافئ

www.alukah.net
شبكة الألوكة



يو مثال قائم کړو چه خپلو دشمنانو ته ئے عامه معافي وکړه، د مکے د فتح نه پس خلق ډلے ډلے په اسلام کښې داخليدل شروع شو، په لسم (۱۰) کال د هجرت چه رسول اللهﷺ آخرى حج کوو نو د يو لاکهـ (۱۰۰۰۰۰) نه زيات صحابه کرام ورسره وو، د حج نه پس واپس مدينے منورے ته راغے.

**د بهر نه د وفدونو راتلل او بادشاهانو ته خطونه :**

د نبي کريم ﷺ نبوت کير چاپيره خور شوے وو، د هر طرفنه خلق ډلے ډلے د مدينے په طرف راتلل، او اسلام کښې داخليدل، بل طرفته نبي کريم ﷺ د قبيلو مشرانو او بادشاهانو ته دعوتي خطونه ليږل شروع کړل، بعضو دعوت قبول کړو، په اسلام کښې داخل شو، بعضو د خط احترام وکړو، او هدايا ئے راوليږلے، خو اسلام ئے قبول نکړو، او بعضو د خط د وجے نه ډير غصه کښې راغلل او د نبي کريم ﷺ خط مبارک ئے شهيد کړو، لکه دا کار د فارس بادشاه کسرى وکړو، رسول الله ﷺ ورته بدعاء (ښيرے) وکړے : **(اللّٰهُمَّ مَزِّق مُلْكَهُ)** (اے الله ! بادشاهي ورله ټکړے ټکړے کړه) .څو ورځے پس خپل ځوى مړ کړو، او بادشاهي ئے ترے واخستله،دغه رنګه د مصر بادشاه مقوقس مسلمان

خو نه شو لیکن د رسول الله ﷺ د استازی ډیر احترام ئے وکړو، او هغه سره ئے ډیرے هدایا نبی کریم ﷺ له راواستولے، او دغه شان حالت د روم د بادشاه قیصر هم وو، هغه هم د رسول الله صلي الله علیه وسلم د خط خکلے جواب ورکړو، او د خط اکرام ئے وکړو او قاصد ته ئے هدیي ورکړے .او د **بحرین حاکم** منذربن ساوی واقعه داسے وه چه کله ورته د رسول الله ﷺ خط میلاو شو، دا خط ئے بحرین والو ته بیان کړو، بعضو اسلام قبول کړو او بعضو انکار وکړو.

## د نبي کریم صلي الله علیه وسلم وفات :

رسول الله ﷺ چه د حج نه واپس شو، نو دوه یا یوه نیمه میاشت پس د بیمارئ ابتداء وشوه، او ورځ په ورځ بیماری زیاتیدله تردے چه د مونځ امامت نه معذور شو، نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته ئے د امامت امر وکړو چه خلقو ته مونځ کوه، د هجرت یولسم (۱۱) کال د ربیع الاول په دولسمه (۱۲) نیټه د ګل په ورځ د رسول الله ﷺ روح مبارک د دنیا نه سفر وکړو، پدے وخت کښې د رسول الله ﷺ عمر مبارک درے شپیته (٦٣)کاله وو، صحابه کرام رضوان الله علیهم

www.alukah.net
شبكة الألوكة



اجمعين چه خبر شو، ډير د غم او پريشانۍ حالت وو، څوک دے خبرے منلو ته تيار نه وو، بالآخر ابو بکر صديق رضى الله عنه خطبه وکړه، مسلمانانو ته ئے د تسلۍ خبرے وکړے، چه رسول الله ﷺ يو بشر وو، او هر بشر باندے به مرګ راځی، ددے نه پس صحابه کرام مطمئن شو، او رسول الله ﷺ له ئے غسل ورکړو، او د عائشے رضى الله عنها په کوټه کښې ئے دفن کړو،رسول الله ﷺ د نبوت نه مخکښې څلويښت کاله (٤٠) مکه مکرمه کښې اُوسيدلو او ديارلس (١٣) کاله د نبوت نه پس مکه مکرمه کښې وو، او مدينه منوره کښې رسول الله ﷺ لس (١٠) کاله اوسيدلے دے، د رسول الله ﷺ د وفات نه پس په اتفاق سره د مسلمانانو اول خليفه ابوبکر صديق رضى الله عنه مقرر شو.

## د رسول الله ﷺ حليه مبارکه :

د نبي کريم ﷺ قد درميانه وو نه ډير لوئ او نه ډيرټيټ وو، ټول اندامونه ډير مناسب، فراخه سينے والا وو، خائسته مخ، سپين رنګ والا چه ګلابی کربنے پکښې ځليدلے، غونډ مخ، تورے سترګے، باريکه پوزه، خائسته خوله، ګڼړه ګيره، خائسته خوشبودار جسم، نرم نرم اندامونه، انس رضى الله

www.alukah.net
شبكة الألوكة



عنه فرمائي چه ما مشك او عنبر او بله خوشبوئی د نبی کریمﷺ د خوشبوئی نه خائسته نده موندلے، د نبی اکرم ﷺ لاس مبارک ډیر نرم وو، تر او تازه خندیدونکے مخ، خائسته آواز، مختصرے خبرے، د رسول اللهﷺ په باره کښې انس رضی الله عنه فرمائی چه نبی کریم ﷺد هر چا نه خائسته، د هر چا نه زیات سخاوت والا، او د هر چا نه زیات بهادر وو.

## د رسول اللهﷺ اخلاق مبارک

رسول الله ﷺ یو بهادرا او با همته انسان وو. علی  فرمائ. چه کله جنګ به ګرم شو او خلق به یوبل کښې ګډوډ شو مونږه به رسول الله ﷺ ته رامنده کوله .رسول الله ﷺد ټولو نه زیات سخاوت کونکی وو ،داسی چرته ندی شوی چه د رسول اللهﷺ چا څه غوښتلی وی او هغه ورته انکار کړی وی ، رسول الله ﷺ ډیر د صبرناک او با وقاره مزاج والا انسان وو ، د خپل ځان دپاره چری انتقام ندی اغستلی .او نه د خپل ذات دپاره په چا باندی غصه کړی ده . او که د الله تعالی مقرر شوی حدود به مات شول د الله تعالی د خطر ه دهغی انتقام به اغستلو ، دحق په معامله کښی به خپلوان

www.alukah.net



غريبانان او مالداره ټول د رسول الله ﷺ په نظر کښې ټول برابر وو،او دا تعليم امت ته ورکړې دی چه اوچتوالی د يو په بل نشته دی مګر په تقوی باندی. ټول خلق د حقوقو په لحاظ سره برابر دی،د مخکينو امتونو د هلاکت سبب هم دا وو چه يو مالداره سړی غلاء وکړه هغه به معاف ئی کړو او غريب سړی باندی به قانون جاری کوو رسول الله ﷺ فرمائل:په الله تعالی قسم .که فاطمة بنت محمد هم غلاء کړی وی ما به دهغی لاس هم پريکووو (صحيح البخاری٣٤٧٥:ومسلم ١٦٨٨رسول الله ﷺپه خوراک کښې چرته هم عيب نه راوباسلو .که خوښ به شو نو خوراک به تری وکړو او يا به پرښودلو ،کله به يو مياشت دوه مياشتی تيری شوی او د رسول الله ﷺپه کور کښې به اور قدرته بل نشو. درسول اللهﷺ خاندان والو به په اوبه او کهجورو باندی وخت تيرولو ،رسول اللهﷺبه د لوږی د لاس خيټی پوری يو يا دوه کانړی تړل، د کور په کارونو کښې به د کوروالو سره مدد کولو د بيمارانو بيمار پورسے له به ورتللو ،عاجزی او تواضع په نبیﷺکښې ډيره زياته وه.  غريب سړی او مالدار عام انسان او صاحب حيثيت چابه چه

www.alukah.net

شبكة الألوكة



راوبللو راتللو به ،د غريب نه د هغه د غربت د وجی نه نفرت نکوو او د بادشاه نه د هغه د بادشاهت د وجی نه يره نکوله، آس ،اوبن،خر، خچر .هر قسم سورلی باندی سورلی کوله .

وبالله تعالی التوفيق

شبكة الألوكة - قسم الكتب

www.alukah.net
شبكة الألوكة



# فهرست د نبي کریم ﷺ د ژوند مختصر حالات


| | |
|---|---|
| د عربو د جاهلیت دور | 3 |
| د دوه ذ بیحینو ځوی | 4 |
| د هتیانو واقعه | 6 |
| د رسول الله ﷺ پالنه او رضاعت | 8 |
| د شق الصدر واقعه | 10 |
| د مور او د نیکه وفات | 11 |
| تجارت او واده | 12 |
| نبوت | 15 |
| ښکاره تبلیغ | 17 |
| هبشوته هجرت | 20 |
| عجبه واقعه | 22 |
| د هر قسم تعلق پریکول | 22 |
| د غم کال | 24 |
| د طائف سفر | 25 |

www.alukah.net
شبكة الألوكة




| | |
|---|---|
| د سپوږمۍ دوه ټکړې کيدل | 26 |
| واقعه د معراج | 27 |
| د اسلام د دعوت نوی محاذ | 31 |
| د مدینې هجرت | 35 |
| جنګ بدر | 36 |
| جنګ احد | 38 |
| جنګ خندق | 39 |
| فتح مکه | 40 |
| وفود راتلل او بادشاهانوته خطونه | 41 |
| دنبي کريمﷺ وفات | 42 |
| د رسول الله ﷺ حلييه مبارکه | 43 |
| د رسول الله ﷺ اخلاق مبارک | 44 |


شبكة الألوكة - قسم الكتب

هذا الكتاب منشور في

شبكة الألوكة

www.alukah.net